د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۳/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۱ / حمل/۱۴۰۵هـ، ش**

# د ظلم،فساد او بې عدالتۍ پر وړاندې د اسلام دریځ

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن سيدنا ونبينا محمداً عبده ورسوله، أرسله بين يدي الساعة بشيراً ونذيراً وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً. الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلا أَنْ هَدَانَا اللّٰهُ. رَضِينَا بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا. أما بعد: فقد قال الله سبحانه وتعالى:(فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ).الأعراف:(١٦٥)

**درنومسلمانانو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

الله جل جلاله رسولان او پيغمبران -صلوات الله عليهم -ددې لپاره راليږلي وو، چې خلک يوازې د يو رب بنده گي اوعبادت ته راوبولي او په ټولنه کې عدالت قائم کړي او خلک له ظلم ، فساد او بې عدالتۍ څخه منع کړي.

د اسلام مبارک دين د نړۍ ټول انسانان عدالت، اعتدال او اصلاح ته رابولي او هر ډول ظلم، فساد او بې عدالتي ناروا او حرام گڼي.

که چيرې متوجه شو ، نن سبا په نړۍ کې ظلم روان دی، فساد اوج ته رسيدلی دی او بې عدالتي عامه شوې ده، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ).الروم: (٤١)ترجمه: ظاهر شو (آثار د) فساد په بر او بحر ( په وچه او لونده) کې

قوي پر ضعيف ظلم کوي او وربانديې تجاوز کوي، ظالم د مظلومانو په حق کې د هيڅ ډول فساد څخه دريغ نکوي، هغه وژني، دارايي او ملکيت يې غصب کوي او ياېې له منځه وړي، کورونه يې تخريبوي ، فصلونه او باغونه يې له منځه وړي او د نړۍ فضاء هر ډول بې عدالتيو نيولې ده. دا ظلمونه په فردي شکل هم ترسره کيږي او د جابرو دولتونو له خوا په مظلومو ولسونو او دولتونو باندې هم جاري دی.

ټوله نړۍ ددې ظلمونو، فسادونو او بې عداليتو شاهده ده او هيڅوک د ظالم مخه نه نيسي.

همدا راز دخلکو په ټولنيز ژوند کې د ظلم ، فساد او بې عدالتۍ نمونې بې شميره دي، لکه قتلول، وهل ټکول، اختطاف کول، دبل مال غلا کول، سودي معاملات کول، د ښمني پالل، د يتيمانو د مالونو خوړل، د ښځو او کونډو د حقونو خوړل، خپلولي قطع کول، د لمونځونو نه کول او د زکاتونو نه اداء کول ، د أولو الأمر له حکمونو او اوامرو څخه سرغړونه کول، دخلکو باغونه او فصلونه وهل او هغه سيزل، مسلمانان په خپلو کې جنګول او د مسلمانانو بې اتفاقيو او دښمنيو ته لمن وهل ، ددرواغو تبليغات او شائعات خپرول، په تول او پيمانه کې کمی کول، د اخيستلو او خرڅولو پروخت مسلمانانوته دوکه او فريب ورکول، درواغ ويل ، عهدونه او وعدې ماتول، رشوت اخيستل او رشوت ورکول، د خلکو ترمنځ په بې عدالتۍ او د شريعت خلاف فيصلې کول او داسې نور.

په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې دغو او ديته ورته کارونو ته ظلم، فساد، عُدوان، جَور، بَغِي، طُغيان او العُتوُّ ويل شوي دي او په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې هر ډول ظلم ، فساد او بې عدالتي حرام ګرځول شوي دي، برابره خبره ده که دا ظلم، فساد او بې عدالتۍ د يو دولت له خوا د بل دولت په مقابل کې ترسره کيږي او که د ټولنې دافرادو له خوا ترسره کيږي.

**د ظلم ناوړه عواقب او د ظلم حرمت د اسلام له نظره:**

ظلم او بې عدالتي دواړه نږدې مطلبونه دي او په شرعي نصوصو کې يو د بل د مترادف په توګه استعمال شي دي.

ظلم د اسلام په مبارک دين کې ناوړه عمل ګرځول شوی دی او د ظالم مذمت او قباحت بيان شوی دی.

الله تعالی د ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب تيار کړی دی.( وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا) . الانسان:(٣١)

ترجمه:او ظالمان(کافران چې دي)تيار کړی دی (الله) دوی ته عذاب ډېر دردناک.

په آخرت کې به ظالمان په خپلو لاسونو باندې چک لګوي د حسرت او پښيمانې په وجه او په لاسونو به چک ځکه لګوي ، چې ظالمان اکثراً په لاسونو باندې ترسره کوي.(وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ علیٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا).الفرقان:(٢٧).

ترجمه: او (ياد کړه ای محمده! هغه دقيامت) ورځ چې خوله به لګوي ظالم پر دواړو لاسونو خپلو له ډېره غمه او افسوسه او حسرته) وايي به (په قيامت کې) ای کاشکې نيولې مې وی له رسوله (الله سره د نجات حقه) لاره.

الله تعالی فرمايي چې د ظالمانود ملګرتيا کوښښ مه کوه؛ ځکه تاسې ته به هم د ظالمانو په شان اوراو عذاب درورسيږي. (وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ).هود:(١١٣)

ترجمه:او مه مائلېږئ تاسې (په دوستۍ سره) په طرف د هغو کسانو چې ظلم يې کړی دی نو وبه رسيږي تاسې ته اور ( د دوزخ) حال دا چې نه به وي تاسې ته پرته (علاوه) له الله هيڅ دوستان (چې ومو ساتي له عذابه)بيا به ونه کړي شي درسره مرسته.

الله جل جلاله د ظالمانو لپاره په قرآن کريم کې بې شميره سزاګانې ذکر کړي دي ، چې ځينې يې په لاندې توګه دي:

**١-ظالم د هدايت څخه بې برخې ګرځول شوی دی**. الله جل جلاله فرمايلي دي:(إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ). المائدة: (٥١)

ترجمه: بېشکه الله هدايت نه کوي قوم ظالمانو ته (چې ظلم کوي په ځانونو خپلو په دوستۍ کولو د کفارو سره).

**٢-ظالم هيڅکله فلاح نه مومي**. الله جل جلاله فرمايلي دي:(إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ).الانعام: (٢١)

ترجمه: بېشکه شان دا دی چې خلاصی نه مومي ظالمان.

**٣پـه ظالم باندې د الله جل جلاله له طرفه لعنت دی**.الله جل جلاله فرمايلي دي:(يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُـوءُ الدَّارِ)غافر:(٥٢)

ترجمه: په هغې ورځې کې به هيڅ نفع نه رسوي ظالمانو ته معذرت عذرونه د دوی او شته دوی ته لعنت لرېوالی له رحمته او شته دوی ته ناکاره کور(د دوزخ).

**۴-ظالم له شفاعت څخه محروم دی**. الله جل جلاله فرمايلي دي:(مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ )غافر:(١٨)

ترجمه:نه به وی ظالمانوته(په قيامت کې)هيڅوک دوست، او نه کوم شفاعتګر چې خبره يې ومنله شی.

**۵-ظالم د مظلوم له ښیرو څخه خلاصی نشي موندلې او د مظلوم ښیراوې به ورته رسیږي.**

نبي علیه السلام فرمایلي دي:«واتَّقِ دَعوةَ المَظلومِ؛ فإنَّه لیس بَینَها وبَینَ اللهِ حِجابٌ» . صحیح مسلم (۱/ ۳۷)

ژباړه: ځانه وساته د مظلوم له ښیروو څخه، بیشکه نشته په مابین د ښیروو د مظلوم او دالله تعالی ترمنځ پرده.

**٦-په ظلم له نړی او ټولنې څخه امنیت پورته کیږي.** الله جل جلاله فرمایلي دي:(الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ).الانعام:(۸۲)

ترجمه: هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نه دی گډ کړی دوی ایمان خپل له ظلم (له لوی نقصان سره چې شرک دی) دغه کسان (چې خپل ایمان یې له شرکه ساتلی دی) هو دوی لره شته امن( له عذابه) او هم دوی دي لار موندونکي.

**۷-ظلم د مصیبتونو او عذابونو د نازلیدو سبب دی.** الله تعالی فرمایلي دي:(فَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَشِيدٍ). الحج: ۴۵)

ترجمه: پس ډېر دي له کلیو (او ښـــارونو) څخه چې هلاک کړي دي مونږ (اهل د) هغو حال دا چې دغه (اهل د هغې قریې) ظالمان وو( په نفسونو خپلو) پس هغه (کلي) پریوتلي دي (دېوالونه یې د پاسه) په چتونو بامونو خپلو باندې او ډېر کوهیان دي چې (ډک له اوبو)بیکاره پراته دي او ډېرې مانۍ پخې لوړې تشې پاتې دي او خاوندان یې هلاک شوي دي).

په یو بل آیت کې راځي:(وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ).هود:(۱۰۲)

ترجمه: او په شان د همدغو (نیولو) نیول د رب ستا دي کله چې ونیسي الله اهل د قریو حال دا چې دا (اهل د قریو کافر) ظالم وي بېشکه نیول د الله ډېر دردناک سخت زورور دي

په سورت الکهف کې راځی:( وَتِلْكَ الْقُرَى أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا)الکهف: ۵۹)

ترجمه: او دغه (اهل د) کلیو (چې دي) هلاکت کړل مونږ دوی هر کله چې ظلم یې اختیار کړ

**۸-ظلم دکور، ټولنې او نړۍ د تباهی او تخریب سبب دی.** الله تعالی فرمایي:(وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ * فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ * فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ).النمل:( ۵۰-۵۲)

ترجمه: او فریب وکړ دوی په فریب کولو سره او فرېب وکړ مونږ په فرېب ورکول سره حال دا چې دوی پرې نه پوهیدل پس وگوره چې څرنگه شو عاقبت د مکر (انجام د فریب) د دوی بېشکه چې مونږ هلاک کړل دغه (نهه واړه) او قوم د دوی ټول (په غږ د جبریل) پس دغه دي کورونه د دوی(ورته وگورئ) چې وران تش پراته دي په سبب د دې چې ظلم (شرک) کاوه دوی بېشکه په دغه (اهلاک د ثمودیانو) کې خامخا لوی دلیل (د قدرت او عبرت) دی لپاره د هغه قوم چې پوهیږي (په خیر او شر خپل او ترې عبرت اخلي) او نجات ورکړ مونږ (له دغه عذابه) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وو او وو دوی چې ویرېدل (له الله او ځانونه یې ساتل له شرکه او معاصیو).

په دې مبارک آیت کې ددې دلیل دی، چې ظلم ظالم هلاکوي او کورونه یې خرابوي .

د اهل کتابو یو کس حضرت عبدالله بن عباس رضي الله ته وویل چې په تورات کې راغلي دي چې څوک ظلم وکړي ، د هغه کور به تخربیږي.

حضرت عبدالله بن عباس ورته وفرمایل: دا په قرآن کریم کې هم شته.( فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ)النمل:(۵۱).

امام ابن خلدون وایي:(الظُّلمُ مُؤذِنٌ بخَرابِ العُمرانِ).تاریخ ابن خلدون (۱/ ۳۹)ژباړه: ظلم خبروونکی د خرابۍ دی.

**۹ -د ظالم اخیري انجام د جهنم اور دی.** په حدیث شریف کې راځي:عن خَولةَ الأنصاريَّةِ رَضِيَ اللهُ عنها قالت: سَمِعتُ النَّبيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم يقولُ:«إنَّ رِجالًا يتَخوَّضونَ في مالِ اللهِ بغَيرِ حَقٍّ، فلهم النَّارُ يومَ القيامةِ».صحیح البخاري ت (۸/ ۱۲۵)

ژباړه: د حضرت خوله انصاریه رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایي چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: بیشکه بعضې سړي تصرف کوی د الله تعالی په مال کې په ناحقه سره، ددوی لپاره اور دی د قیامت په ورځ.

## د ظلم ډولونه او قسمونه:

ظلم په دوه ډوله دی، يو قولي ظلم لکه د غيبت کول، چغل خوري ، کنځل کول، پوچ او نا کاره الفاظ کارول، خلکو ته ناوړه القاب کارول ، په خلکو باندې مسخرې او استهزاء کول، بهتان تړل او داسې نور.

او بل ډول عملي او فعلي ظلم دی. د اسلام په مبارک دين کې قولي ظلم او فعلي او عملي ظلمونه ټول حرام گرځول شوي دي او د ظلم د ټولو انواعو او ډولونو مذمت او قباحت بيان شوی دی او د ظالمانو لپاره په دنيا او آخرت کې سختې سزاگانې ذکر شوي دي.

هغه کارونه چې په شريعت کې ظلم ورته ويل شوی او د ظالم لپاره سزا ذکر شوی ده په لاندې توگه دي:

**۱-په ناحقه د مسلمان وژل.** په ناحقه او قصداً د مسلمان وژل او په مسلمانانو ، زنانه و او اطفالو باندې د مرميو باران کول د شرک څخه وروسته تر ټولو لوی ظلم دی. نن سبا په سياسي کشمکشونو کې دا بې عدالتي او عدوان زيات شوی دی، کوم چې په اسلام کې حرام او ناوړه عمل دی.

په اسلامي جنگي اصولو او قوانينو کې هغه څوک ووژل شي چې جگړه کوي او اسلام د ماشومانو، زنانه وو، بوډاگانو او سپين ږيرو له وژلو څخه منع کړې ده. الله تعالی فرمايلي دي:( وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللّهِ يَسِيرًا). [النِّساء:(۳۰)

ترجمه: او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (يعنې يو بل يا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاک سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان. او هر څوک چې وکړي دغه (تېر منهيات) په تېرېدلو سره له حقه او ظلم (تعدې) سره نو ژر به مونږ داخل کړو دې اور ( د دوزخ) ته او دي دا (د دوزخ اور ته د دوی ننه ايستل) پر الله باندې ډېر آسان.

په حديث شريف کې راځي. عن أَنَس بن مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وَلاَ تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلاَ طِفْلاً وَلاَ صَغِيرًا وَلاَ امْرَأَةً وَلاَ تَغُلُّوا»سنن أبى داود-ن (۲/ ۳٤۲)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: لاړشئ (غزا ته) دالله تعالی په نامه او د الله تعالی په مرسته په داسې حال کې چې ثابت اوسئ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دين باندې او مه وژنئ شيخ فاني( چې په جنگ کې صاحب د نظر نه وي) او مه وژنئ طفل او مه وژنئ ماشوم او مه وژنئ ښځه او (د غنيمت په مال کې) خيانت مه کوئ.

په قصاص کې د مجرم څخه علاوه بل څوک د مجرم ورور، پلار ، زوی يا بل خپلوان يې وژل هم بې عدالتي او عدوان دی او په اسلام کې ځای نلري. الله تعالی فرمايلي دي:(وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا). الاسراء:(۳۳)

ترجمه: او مه وژنئ تاسې نفس هغه چې حرام کړي دي الله (وژل د هغه) مگر په حقه سره (چې ارتداد او زنا مع الاحصان او قصاص دی) او هر څوک چې ووژلی شـو په دې حال چې مظلوم وي نو په تحقيق گرځولی دی مونږ لپاره د وارث د هغه زور (او قوت چې له قاتل څخه انتقام اخستی شي) نو اسراف دې نه کوي په قتل کې ( چې غير حق بل څوک وژني يې له قاتله) په تحقيق دغه (وارث) دی مدد ورسره کړی شوی.

**۲-د بل چا ځمکه او جايداد غصب کول ولو که يوه لويشت هم وي.** په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي: «من أَخَذَ شِبراً من الأرضِ ظُلماً؛ فإنَّه يُطَوَّقُه يومَ القيامةِ من سَبعِ أَرَضين». متفق عليه

ترجمه: چاچې يوه لويشت ځمکه راونيوله په ظلم سره، بيشکه دا يوه لويشت ځمکه به دده دغاړې طوق وگرځول شي د قيامت په ورځ د اوو طبقو ځمکو په اندازه .

امام خطابی رحمة الله عليه وايي: ددې معنا داده چې د قيامت په ورځ به غاصـب باندې دهغه د ظلم په اندازه گناهونه بارکړل شي او ددغه گناهونه به يې لکه طوق په شـان له مرى تاو وي او محشر ـ ته به راشي. يا داچې غاصـب به د قيامت په ورځ پراوو زمکو ور ومندل شي او داځمکې د طوق په شکل دده په غاړه کې پريوځي. [معالم السنن]

**۳- د خلکو مالونه په باطل سره خوړل.** الله تعالی فرمايي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا * وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ).النساء:(۲۹-۳۰)

ترجمه: ای هغو کسـانو چې ایمان یې راوړی دی ( یعنې ای مؤمنانو!) مه خورئ تاسـې مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره مگر (خورئ یې) که وي دا مالونه چې خورئ یې اموال د) تجارت (چې صادر وي) په خوښې سره له تاسو نه. او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (یعنې یو بل یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاک سبب وي)بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان.او هر څوک چې وکړي دغه (تېر منهيات) په تېرېدلو سره له حقه او ظلم (تعدې) سره نو ژر به مونږ داخل کړو دې اور (د دوزخ) ته او دي دا (د دوزخ اور ته د دوی ننه ایستل) پر الله باندې ډېر آسان.

**۴-د یتیمانو او کمزورو خلکو مالونو خوړل.** الله تعالی فرمايي:(إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا). النساء:(۱۰)

ترجمه: بېشکه هغه کسان چې خوري دوی مالونه د یتیمانو په ظلم سره (بې له شرعي اذنه) خبره دا ده چې خوري دوی (اچوی) په گېډو خپلو کې سور اور او ژربه ننه وځي دوی اور سخت گرم ته.

**۵-سود کول.** سود الله گناه ده چې الله تعالی سود خور ته د جنگ اعلان کړی دی. الله تعالی فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ(۲۷۸) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ).البقرة:(۲۷۹)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو!) ووېرېږئ له الله نه او پرېږدئ هغه چې پاتې شوي دي له سوده که یئ تاسې مؤمنان (ایمان لرونکي په شریعت په رښتیا سره).

**٦-رشوت اخیستل** . په رشوت اخیستونکي او رشوت ورکوونکي او څوک چې د راشي او مرتشي په منځ کې دی ، په دوی ټولو الله تعالی لعنت ویلی دی. په حدیث شریف کې راځي: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الرَّاشِىَ وَالْمُرْتَشِىَ» . سنن أبی داود-ن (۳/ ۳۲٦)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی، په رشوت ورکوونکي او د رشوت په اخیستونکي باندې.

دمسند احمد -رحمه الله- په روایت کې راځي،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي» مسند أحمد (۱۱/ ٥٦٥)

ژباړه: لعنت د الله تعالی دې وي د رشوت په ورکوونکي او د رشوت په اخیستونکي باندې. حاشية السندي على سنن ابن ماجه (۲/ ٤۹)

علامه مناوي رحمه الله وایي: رشوت د الله تعالی د احکامو په بدلولو دا هغه خصلت دی چې د یهودو څخه یې نشأت کړی دی او په یهودو الله تعالی لعنت ویلی دی . که چیرې مسلمانان داکار کوي ، نو دوی هم د الله تعالی د لعنت مستحق دی، لکه څرنگه چې یهود د لعنت مستحق ؤ.

**۷-په معاملاتو کې دوکه او فریب کول.** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا ». صحيح مسلم (۱/ ٦۹)

ژباړه: او چاچې مونږ ته دوکه راکړه ، پس هغه زمونږ څخه نه دی. یعنې زمونږ په طریقه باندې نه دی.

ابن حجر مکي رحمه الله وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې حدیث څخه معلومیږي چې دوکه او فریب په معاملاتو کې ډیر لوی کار دی او ډیر بد انجام لري او کله کله دوکه مسلمان له اسلام څخه خارجوي ، ځکه غالباً رسول الله صلی الله علیه وسلم کې د (لیس منّا) جمله نه کاروي مگر په یو ډیر قبیح شی کې یې کاروي، چې د دغه کار صاحب خطرناک انجام سره مخ کوي او په ده باندې د کفر ویره شته دی. الزواجر عن اقتراف الكبائر (۱/ ٤۰۱)

**۸-په پیمانه کې او تول کې کمی کول.** الله تعالی د تول او وزن په پوره ورکولو امر کړی دی.(وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ).الانعام:(۱۵۲)

ترجمه: او پوره کوئ تاسې پیمانه او تول په عدل (انصاف) سره

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ) الاسراء:(۳۵)

ترجمه:او پوره ورکوئ تاسې پیمانه هر کله چې پیمانه کوئ تاسې او تول کوئ تاسې په تلې برابرې سره

او په تول او پیمانه کې د کمی کوونکو لپاره یې سخت وعید ذکر کړی دی او فرمایلي یي دي: (وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ).المطففين:(۱-۳)

ترجمه: افسوس هلاکت خرابي یا کنده د دوزخ ده کم کوونکیو لره (پیمانه او تول کې) هغه کسان هر کله چې ځان ته اخلي پیمانه نو پوره اخلي او کله چې پیمانه ورکوي یا یې تلي هغوی ته نو کمی کوي (پوره یې نه ورکوي).

**۹-د کورنی له غړو لکه دښځې،** لوڼو او زامنو سره ظلم کول. ښځې ته د هغې مهر او نفقه نه ورکول، مطلقه ښځه د خاوند د کولو څخه منع کول . بالغه لوڼه په کلونو کلونو په کور کینول او هغوی خرڅول. الله تعالی فرمايي:(وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ) النساء:( ۱۹)

ترجمه: او مه منعه کوئ تاسې دا (ښځې) د نکاح کولو نه لپاره د دې چې یوسئ (ترې واخلئ) تاسې ځینې د هغه مال چې ورکړی وي تاسې دوی ته (په مهر کې)

## د فساد حراموالی او د فساد ډولونه:

لکه مخکې مو چې وویل په اسلامي نصوصو کې ظلم او فساد د ترادف په توګه یو د بل پر ځای استعمال شوي دي.

خو د عربي لغت پوهان وايې چې په فساد کې د ظلم په نسبت عموم پروت دی.

الله تعالی په ځمکه کې هر ډول فساد حرام ګرځولی دی او د فسادیانو په اړه په شرعي نصوصو کې زیات وعیدونه ذکر شوي دي.

الله جل جلاله له فساد څخه منع کړی ده او په اصلاح یې امر کړی دی. الله تعالی فرمايلي دي:(وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ).الاعراف:(۵٦)

ترجمه:مه کوئ فساد ای انسانانو! په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې(د انبیاوو په بعثت سره)او وبولئ تاسې الله (عبادت یې کوئ) په خوف (وېرې) سره (له عذابه د الله) او په طمع (امید د رحمت د الله) بېشکه چې رحمت (مهرباني) د الله ډیره نژدې ده محسنانو (نېکي کوونکو) ته

الله تعالى فرمايلي دي:(وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ).الانفال: (۱)

ترجمه: پوښتنه کوي دوی له تانه (ای محمده!) له (حکمه د) غنائمو څخه ووایه (دوی ته چې اموال د) غنیمتونو خاص الله لره دي او رسول (د الله) لره دي (چې تقسیم یې کړي سم له شرعي اصولو سره) پس ووېرېږئ تاسې له الله نه او اصلاح وکړئ! او نزاع پرېږدئ او حکم ومنئ تاسې دالله او (حکم ومنئ تاسې) د رسول د الله که یئ تاسې مؤمنان (په حقه سره).

الله تعالى فساد نه خوښوي:(وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ) البقرة:(۲۰۵)

ترجمه:الله نه خوښوي فساد او معصیت

الله تعالى فسادیان هم نه خوښوي.(وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ) المائدة:(٦٤)، القصص:(۷۷)

ژباړه: او الله نه خوښوي فساد کوونکي

فساد ډیر ډولونه لري ، چې په ځمکه کې تر ټولو لوی فساد کفر ، شرک او نفاق دی او په دې اړه په قرآن کریم کې او نبوي احادیثو بې شمیره آیتونه او احادیث موجوددي. ځینې فسادونه په لاندې ډول دي:

**۱-د نړۍ تخریبول او د نړۍ د نظام فاسدول.** په ځمکه او نړۍ کې قسماقسم فسادونه موجوددي،لکه سیاسي فساد، اقتصادي فساد، ټولنیز فساد،چې دهغې له جملې څخه په نړۍ کې جنګونه رامنځ ته کول، ټولنیزې بې عدالتی رامنځ ته کول او په نړۍ کې الهي نظام فاسدول.الله تعالى فرمايلي دي:(وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ).الاعراف:(۵٦)

ترجمه:مه کوئ فساد ای انسانانو!په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې (د انبیاوو په بعثت سره)او وبولئ تاسې الله (عبادت یې کوئ) په خوف (وېرې) سره (له عذابه د الله) او په طمع (امید د رحمت د الله) بېشکه چې رحمت (مهرباني) د الله ډیره نژدې ده محسنانو (نېکي کوونکو) ته دا کفري نړیوال زبرځواکونه دي چې په نړۍ کې یې اور بل کړی دی او د مسلمانانو خاوره، اقتصاد ، ثروت او اقصادي زیرمې یې غصب کړې دي او غواړي او د لا زیات نفوذ او غصب لپاره یې جنګونه او جګړې پیل کړي دي او مسلمانان په خپلو شتمنیو باندې وژني او په شهادت یې رسوي.

وچه ، بحرونه او اطلسونه یې د هلاکوونکو اسلحو او وسائلو څخه ډک کړي دي، که چیرې وګورې، نو د هر فساد تر شا به یهودیان ولاړ وي.
الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ بَلْ أَتَيْنَاهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُعْرِضُونَ) المؤمنون:(٧١)

ترجمه:او که متابعت کړی وی حق (الله ،قرآن) د نفساني غوښتنې د دوی (په وجود د ډیرو معبودانو کې) نو خامخا خراب شوي به وو اسمانونه او ځمکه او هر هغه (مخلوق) چې په دوی کې دی بلکه راړی مو دی دوی ته ذکر پند د دوی (چې قرآن مجید دی).پس دوی له ذکر پند خپل مخ ګرځوونکي دي (فکر او غور ورته نه کوي).

یعنې که چیرې الله تعالی هغه کار وکړي چې دا مشرکان یې خوښ ګڼي او تدبیر ددوی په خوښه ونیسي او حق پریږدي کوم چې دوی یې بد ګڼي، نو خامخا به آسمانونه او ځمکه فاسده شي. مګر الله تعالی هغه څه کوي چې د آسمانونو او د ځمکې داوسیدونکو په کې خیر وي.

**٢-حرابه او د قطاع الطريقی فساد.** د مسلمانانو لارې نا امنه کول او مسلمان ویرول او د هغوی څخه مالونه شکول او مسلمانان وژلو ته حرابه ویل کیږي ، چې د ځمکې په سر نظام او امنیت تهدیدوي او په اسلام کې حرام او ګناه کبیره ده او جزاء یې الله تعالی ذکر کړی ده. (إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ).المائدة:(٣٣)

ترجمه: بېشکه همدا خبره ده چې جزا د هغو کسانو چې جنګ کوي دوی له (دوستانو) د الله او د رسول د ده سره او سعي کوي (منډې وهي) دوی په ځمکه (په ملک) کې لپاره د فساد (او بد امنی غورځولو) چې دوی ووژلی شي یا دې په دار کړ شي یا دې پرې کړی شي لاسونه د دوی او پښې د دوی سره خالفې (یعنې ښې لا او کینه پښه یا عکس د دې) یا دې وشړل شي له ځمکې (په حبس سره یا له هغه ځایه بل لري ځای ته) دا (مذکوره جزا) دغو (غلو) ته رسوایي ده په دنیا کې او (شته) دغو (غلو) ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی.

**٣-فتنې او جنګونه رامنځ ته کول.** د مسلمانانو پر خلاف جنګ او جګړې په لاره اچولد ځمکې په سر ستر فساد دی، ځکه چې په جنګونو او جګړو کې د مسلمانانو ابرو او عزت تر پښو لاندې کیږي، کورونه یې تخریبیږي، باغونه او فصلونه یې تباه کیږي.
الله تعالی ددې فساد په اړه فرمایلي دي:( كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ )المائدة(٦٤)
ترجمه:هر کله چې بلاوه دوی اور لپاره د جنګ (د رسول الله سره نو) مړ کولو به هغه (اور) الله او سعیه کوي (ځغلي) دوی په ځمکه کې لپاره د ساد اچولو،او الله نه خوښوي فساد کونکي(نه په سزا یې رسوي).

**٤-د اسلام پرځای پاچاهي او سلطنت غوره کول.** ځینې وخت د چوکۍ او منصب او پاچاهۍ خوبونه لیدل او د چوکۍ او پاچاهۍ لپاره منډې وهل فساد رامنځ ته کوي او ځینې خلک چې منصب او چوکۍ ته ورسیږي، نو بیا په ځمکه کې فساد کوي. الله تعالی ددې خبرې ذکر کړی دی.(فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ).محمد:(٢٢).
ترجمه: پس آیا نژدې یئ تاسې(ای منافقانو)که چېرې بادشاهان او متصرفان شئ، نژدې یئ دېته چې فساد به کوئ په ځکه کې، او پرې به کړئ تاسې(خپلولۍ او)قرابتونه خپل.

**٥- پر مسلمانانو د کفارو مسلط کیدل.** کله چې پر مسلمانانو کفار مسلط شي او یا په اسلامي هیواد کې کافر قدرت ته ورسیږي او د مسلمانانو واګې په لاس کې ونیسي- ، نو دا په ځمکه کې ډیر لوی فساد دی، ځکه چې کافر او فاسد پاچا به داسلام او مسلمانانو پر خلاف دسیسې جوړوي او په اسلامي خاوره او ولس باندې به طاغوتي نظام حاکموي او د نړۍ له کفارو سره به د حمایت او ملاتړ تړونونه امضاء کوي او د اسلامي دولتونو او نظامونو پر خلاف به اقدامات کوي. نو په اسلامي ملک کې د کافر یا منافق شخص مسلط کیدل ډیر ستر فساددی. الله تعالی فرمایلي دي:(وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ).الانفال:(٧٣)
ترجمه:او هغه کسان چې کافران شوي دي ځینې د دوی دوستان دي د ځینو نورو (په امداد کې له یو له بله سره) که ونه وکړئ تاسې دا (دوستي په خپلو منځونو او دښمني له کفارو سره) نو پیدا به شي (لویه) فتنه په ځمکه کې او (خور به شي)فساد.

**٦-بې عدالتي او د خلکو په حقوقو کې کمی کول.** خلکو ته د هغوی حق نه ورکول، برابره خبره که هغه مادي وي او که معنوي فساد دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ * فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ).الفجر:(١١-١٢)
ترجمه: هسې (سړي وو دوی ټول) چې سرکشي يې کړې وه په ښارونو کې بيا يې ډېر کړی وو په هغو (ښارونو) کې فساد ورانی.
يعنې دا هغه کسان دي چې په ښارونو کې بې عدالتي وکړه او سرکشي يې وکړه او په ښارونو کې يې زيات فساد وکړ، په بې عدالتۍ سره، په ظلم سره ، خلکو ته په اذيت رسولو سره ، د خلکو د حقوقو په ضائع کولو سره .
**٧-په جهاد کې فساد کول.** جهاد په اسلام کې ستر مقام لري او څوک چې دالله تعالی په لاره کې جهاد کوي ، بايد د الله تعالی د رضا لپاره وي او په دغه مقدس سفر کې او عمل کې له فساد کولو څخه ځان وساتي .په حديث شريف کې راځي:عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ : « الْغَزْوُ غَزْوَانِ فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللَّهِ وَأَطَاعَ الإِمَامَ وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنَبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً وَعَصَى الإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ ». سنن أبى داود-ن (٢/ ٣٢١)
ژباړه: حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه وايې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: غزاګانې دوه ډوله دي، پس هغه څوک چې ولټوله د الله تعال رضامندي او اطاعت يې وکړ د امير او خپل عزت مند مال يې خرچ کړ او د جهاد د ملګري سره يې ملګرتيا په سهولت سره وکړه او له فساد څخه يې اجتناب وکړ، نو بيشکه دده خوب او بيداري ټول اجر دی او هغه کس چې غزا وکړي د فخر ، رياء او ځان ښودنې لپاره او نافرماني وکړي د امير او په ځمکه کې فساد وکړي ، نو بيشکه دا به را ونه ګرځي (له جهادڅخه) پوره پوره. يعنې د هغه مخکني په شان به راونه ګرځي.
**٨-د ښځو په کور زړول او په سړو کې د عفت قلت او کموالی.** د فساد بل ډول د ښځو نه ودول او ښځې په کور زړول او په سړو کې د عفت کموالی دی. نبي عليه السلام فرمايي:(إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ، فَأَنْكِحُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ»، وَفِي رِوَايَةٍ: «عَرِيضٌ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنْ كَانَ فِيهِ؟ قَالَ: «إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ» قَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. سنن الترمذي (٣/ ٣٩٥)
ژباړه: کله چې تاسې ته راشي داسې څوک چې تاسو يې خوښ ياست د هغه ددين او اخلاقو څخه ،نو ورته په نکاح ورکړئ(لور يا خور) ، که چيرې دا کار ونکړئ، نو پيدا به شي فتنه په ځمکه کې او فساد لوی . په يو بل روايت کې د(عريض) لفظ راغلی دی .يعنې پراښه فساد. صحابه کرامو عرض وکړ ای دالله رسوله! که چيرې مال او نفقه ورسره نه وي.نبي عليه السلام بيا وفرمايل: کله چې تاسې ته راشي داسې څوک چې تاسو يې خوښ ياست د هغه ددين او اخلاقو څخه ،نو ورته په نکاح ورکړئ(لور يا خور). درې ځله يې دا خبره تکرار کړه.
**٩-د خلکو ويرول او په هيواد او ښارونو کې امنيت ګواښل.** د خطرناکو فسادونو له جملې څخه د مسلمانانو ويرول او په هيواد او ښارونو کې د امنيت ګډوډ کول دي. الله تعالی د منافق په هلکه فرمايي: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ * وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ * وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ). البقرة:(٢٠٤-٢٠٦).
ترجمه: او ځينې له خلقو څخه هغه څوک دي چې په تعجب کې اچوي تا خبره د ده په (کارو د دې) ژوندون لږ کې او شاهد کوي دې الله په هغه شي چې په زړه د ده کې دي حال دا چې دی ډېر سـخت دی په جګړه او عداوت کې او کله چې ښېرته وګرځي( له تانه ای محمده!)نو ګړندی ګرځي په ځمکه (د مدينې) کې لپاره د دې چې فساد وکړي په ځمکه کې او هلاکوي کښت او ساکښان (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چې الله نه خوښوي فساد (او معصيت) او کله چې وويل شي ده ته چې وويرېږه له الله نيسي دی غرور (عار او ننګ په کولو د) ګناه بس کافي دی ده لره عذاب د اور د دوزخ او هرو مرو (خامخا) بد بستر دی (دا اور د دوزخ).

**أقول هذا القول، وأستغفر الله العظيم لي ولكم ولسائر المسلمين من كل ذنب؛ فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.**